# ......پښتو......

## ......حمد......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړی۔

الف: دَ جمله روزی خوارانو رازق څوک دے؟

جواب: دَ جمله روزی خوارانو رازق الله تعالیٰ دے۔

ب: الله پاک دَ څهٔ نه مبرا دے؟

جواب: الله تعالیٰ دَ مکان نه مبرا دے۔

ج: پاک بې وزیره بادشاه دے، دَ هغه وزیر ته ولې حاجت نشته؟

جواب: د دې مطلب دا دے چې الله تعالیٰ هیچاته هم څهٔ حاجت نهٔ لری او نهٔ دَ چا محتاج دے۔

د: الله پاک بې وزیره بادشاه دے، دَهغهٔ وزیر ته ولې حاجت نشته؟

جواب: الله تعالیٰ ته دَ وزیر حاجت ځکه نشته چې دَ هغه لوئے ذات هیڅ یو انسان سره دَهیڅ قسمه صلاح مشورې ضرورت نهٔ لری۔ او په دې وجه هغه بې وزیره بادشاه دے۔

سوال2: دَ لاندینو ټکو معنې ولیکئ:

| الفاظ | معنی | الفاظ | معنی |
| --- | --- | --- | --- |
| اعلیٰ | بهترین | مبرا | بې نیازه |
| اشیا | څیزونه یا سازو سامان | فرد | یو یا انسان |
| باطن | پټ | دانا | هښیار |
| معصیت | قصور یا گناه | رنځ | مرض |

سوال3: دَ الله پاک پینځهٔ صفتونه ولیکئ۔

پینځهٔ صفتونه: روزی رسان۔ خالق۔ بې پروا۔ بادشاه۔ مهربان

سوال4: په دې حمد کښې پینځهٔ اسمونه وښایئ۔

پینځهٔ اسمونه: مکان ۔ وزیر۔ بادشاه۔ عظیم۔ عالم

سوال5: په لاندینو لفظونو اعراب ولګوئ۔

| | | | |
| --- | --- | --- | --- |
| رازق | رَازِقٌ | محتاج | مُحْتَاجُ |
| مصلحت | مَصْلِحَتُ | رنځ | رَنّځ |
| عطا | عَطَا | ...... | ...... |

## ......نعت......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: شاعر په وړومبی شعر کښې څهٔ خواست کوي؟

جواب: شاعر وائي چې الله تعالیٰ دې په ما رحم وکړي۔ چې ستا دَ روژې دیدار مې نصیب شي ۔ او ستا دَ روژې خوشبوداره هوا به ماولګي۔

ب: دکفر شپه دَ چا په مخ سبا شوه؟

جواب: دَ کفر شپه زمونږ دَ پاک حبیب محمدؐ له مخه سبا شوه۔

ج: زمونږ حبیبه چاته مخاطبه ده؟

جواب: زمونږ حبیبه پیغمبر اسلام حضرت محمدؐ ته مخاطبه ده۔

سوال2: ددې شعر تشریح (وضاحت) وکړئ

کهٔ نهٔ نهٔ وے هیڅ به نهٔ وو پیدا شوې
کهٔ دنیا ده کهٔ عقبا زمونږ حبیبه

تشریح:(وضاحت)

په دې شعر کښې شاعر وائی چې کهٔ الله تعالی زمونږ حبیب حضرت محمدؐ پیدا کول نهٔ غوښتل نو بیا به نې دا دنیا او اخرت هم نهٔ وو پیدا کړی۔ یعنی دا ټول کائنات زمونږ دَ پاک پیغمبر حضرت محمدؐ له مخه پیدا دی۔

سوال3: دَلاندینو ټکو معنې ولیکئ:

| نسیم | هوا یا سحرباد | افتاب | نمر |
| --- | --- | --- | --- |
| عقبا | اخرت | بې نوا | بې دره |
| رانما | راښکاره | سیالی | همسری |

سوال4: شعر پوره کړئ

ستا له هجره مې رنګ زیړ له نرګس دے
ځیګرخون لکهٔ لاله زمونږ حبیبهٔ

## ......دَ رسول کریم ﷺ شفقت او سادګي......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ۔

الف: زمونږه رسول پاک ﷺ کوم کوم کارونه په خپلو مبارکو لاسونو کول؟

جواب: زمونږ پیغمبرؐ به دَ کور کار پخپله کولو خپلې جامې به بې خپله ګنډلې، اوښانو ته به بې ګیاه اچوله ۔ شودهٔ به بې لوشل، اوړهٔ به بې اغږل، جارو به بې وهله او دَ بازار نه به بې سودا په خپله راوړله۔

ب) دَ حبشې دَ بادشاه څهٔ نوم وهٔ؟

جواب: دَ حبشې دَ بادشاه نوم نجاشي وهٔ۔

ج: دَ حبشو دَ جرګې دَ خلقو دَ رسول پاک ﷺ دَ دربار په حقله څهٔ خیال وهٔ؟

جواب: دَ جرګې دَ غړو داخیال وهٔ چې مونږه دَ یو ډیر لوے بادشاه دربار ته تلونکی یو او دا تلوسه ورسره وه چې دَ دغه بادشاه دربار به څهٔ رنګه وي؟ ځکه چې دَ هغوی دَ بادشاه نجاشي په خپله دا ارمان وهٔ چې دَ دغه بادشاه دربار ته حاضر شي۔

د: رسول پاک ﷺ دَ ماشومانو سره څنګه سلوک کولو؟

جواب: زمونږ دَ پیغمبر ﷺ ذات مبارک دَ ښو خویونو یوه

Scanned with CamScanner

نمونه وه- په ماشو ماشو به یې اول سلام اچولو بیا به یې ورسره ډیره مینه کوله-

و: د مکې د فتحې نه پس رسول پاک ﷺ د مکې خلقو سره څه وکړل؟

جواب: د مکې د فتحې نه پس رسول پاک ؐ په مکه حمله وکړه او مکه فتح شوه خو هغوی ښار ته د ننوتو په وخت په اوښ سواره وو او سر مبارک یې دومره ټیټ کړے وه چې مخ مبارک یې کجاوې سره لګېدلو- د دې دپاره چې په انساني فتح څوک غاړره نه شي-

کومو خلقو چې رسول الله ته تکلیفونه ورکړي وو، هغو ټولو ته یې عامه بخښنه وکړه او معاف یې کړل-

سوال2: لاندینې ټکې په خپلو جملو کښې استعمال کړئ

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| ساده ژوند | رسول پاک ؐ به ډېر ساده ژوند تېرولو |
| جامې | رسول پاک ؐ به خپلې جامې پخپله ګنډلې |
| اوږه | اوږه اغېزل د ښځو کار دے |
| جرګه | د حبشو جرګه رسول پاک ؐ ته حاضره شوه |
| جوړه تازه | په حجره کښې هر چا سره جوړ تازه کول ښکار وی |
| غزا | د اُحد په غزا کښې د رسول پاک ؐ غاښونه بارک شهیدان شول |

سوال3: د مذکر دپاره مؤنث او د مؤنث دپاره مذکر ولیکئ-

| مذکر | مؤنث | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|---|
| اس | اسپه | نائی | نائنه |
| ورور | ورندار | لیور | ښور |
| حاجی | حاجنه | ...... | ...... |

## ......د وخت قدر......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ-

الف: لقمان حکیم څنګه سړے وه؟

جواب: لقمان حکیم ډېر زبات هښیار سړے وه-

ب: لقمان حکیم به په څو روپو یوه خبره کوله؟

جواب: لقمان حکیم به په سلو روپو یوه خبره کوله-

ج: مالدار سړي ته لقمان حکیم کومه خبره وکړه؟

جواب: لقمان حکیم سړی ته ووې چې د نن کار سبا ته مه پرېږده او دې وینا سره خاموشه شو او هغهٔ ته یې د تلو اشاره وکړه- مطلب یې دا وه چې تا د څهٔ دپاره دلته رانګ کړے وهٔ او د څهٔ قیمت چې دې ادا کړے دے نو هغه مقصد دې تر سره شو، نهٔ اوس تللے شې-

د: مالدار سړے چې بیرته راغلو نو د هغهٔ نوکرانو څهٔ کول؟

جواب: مالدو سړے چې بیرته راغلو نو د راتلو سره سم والعل چې ددهٔ نوکران لګیا دي د غنمو غوبل کوي- کله چې غوبل خلاص شو نو نوکرانو ووې چې سبا له به ډرې بوس او غنم پېل کړو، اوس مونږ ستړي شوي یو چې لږ دمه شو خو مالدار سړي چې نه ، هم ان به بُوس او غنم بېلول ښکار وي- د نن کار سبا ته نهٔ سپارو او هم په دې خبره خو ماصل (روپۍ) ورکړي دي-

ه: مالدار سړي ته د لقمان حکیم یوې خبرې څهٔ فائده ورکړه؟

جواب: د خدایے کاررونه وو چې د شپې ډېر سخت باران شو او بې حسابه اوبهٔ راوورېدې، چې چا غوبلونه کړي او وانهٔ یې پرې وي نو هغه ټول بُوس او غنم اوبو یوړل او د دغه مالدار سړي غنم او بُوس محفوظ پاتې شول نو هغه مالدار سړي ته ډېره فائده ورسېده او د لقمان حکیم یوه خبره ورته ډېره قیمتي ښکاره شوه چې یې دډېر نقصان او تاوان نه بچ کړو او ورته ثابته شوه چې د نن کار سبا ته پرېښودل ښکار نه دي-

و: د دې سبق نه مونږ څهٔ زده کولے شو؟

جواب: د دې سبق نه مونږ دا زده کولے شو چې د وخت قدر ښکار دے او د نن کار سبا ته پرېښودل نه دی ښکار-

سوال2: د دې لفظونو معنې ولیکئ او په خپلو جملو کښې یې استعمال کړئ:

| الفاظ | معنی | جملے |
|---|---|---|
| هوښیار | عقلمند | هښیار سړے چرې هم نهٔ خواربږي |
| شته من | مالدار | په شته من سړی د الله تعالیٰ فضل وی |
| مریان | نوکران یا غلامان | د مالدار سړی بې شمیره مریان وو |
| علم | پوهه ـ فن | لقمان حکیم سره ډېر لوئے علم وهٔ |
| څنګ | خوا په خوا | ارشد او امجد څنګ په څنګ روان دی |
| محفوظ | سلامت | د مالدار سړی غنم محفوظ پاتې شو |

سوال3: د څیزونو، ځایونو او بنیادمو نومونو ته اسم وائي لکه کرسي، ځنګل، غر، دریاب، سړے، ښځه-

تاسو په دې سبق کښې پینځهٔ اسمونه ولټوئ او په خپلو کاپو کښې یې ولیکئ-

جواب: پنځه اسمونه ـ ښار- غلامان- روپۍ ـ غنم- اوبهٔ

سوال4: لاندې ورکړې شوې جملې ولولئ او مخامخ د صحیح یا غلط لفظ نه کرښه تاؤ کړئ

الف: لقمان حکیم ډېر هوښیار سړے وهٔ- (غلط/صحیح ✓)

ب: لقمان حکیم به بې پیسو اخستو خبره کوله-
(✓ غلط/صحیح)

ج: لقمان حکیم ورته ووې چې د نن کار سبا ته مهٔ پرېږده-

(غلط ✓/صحیح)

د: مالدار سړي ورته چې بالې کار په سبا کول.

(✓ غلط/صحیح)

## دَ آزادۍ په تحریک کښې دَ طالب علمانو برخه

سوال1: دَلاندېنو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ۔

الف: دَپاکستان جوړېدل کله ممکن شو؟

جواب: دَپاکستان جوړېدل هله ممکن شول چې ټول اولس په یو آواز اویو اتفاق دغه غوښتنه وکړه او بیا دَ دې قام خوانانو، بوډا گانو، نر او ښځو دَ دغه غوښتنې دَ پوره کولو دپاره هر قسمه قربانۍ ورکړې۔

ب: دَپاکستان تکې په وړومبي ځل چا ښکاره کړو؟

جواب: دَ پاکستان تکے په وړومبي ځل چودهری رحمت علی ښکاره کړو۔

ج: گول مېز کانفرنس چرته منعقد شوے وُه؟

جواب: گول مېز کانفرنس په لندن کښې منعقد شوے وُه

د: دَوطن دَ ازادۍ دپاره دَطالب علمانو هلې ځلې بیان کړئ۔

جواب: دَ پاکستان په تحریک کښې دَ وطن دَ نورو برخو طالب علمانو هم کافي هلې ځلې کړې دي۔ دَ بلوچستان زده کونکو هم په دغه لړ کښې ښهٔ جدوجهد کړے دے۔ دَ پنجاب طالب علمانو دَ ازادۍ حاصلولو دپاره هم خپل یو تنظیم جوړ کړے وُه۔ دغه شان په سنده کښې هم طالب علمانو ډېره سرگرمي ښودله او په خاصه توگه دَ کراچی سنده مدرسه دَ ازادۍ خوښو طالب علمانو مرکز وُه۔ په دغه مدرسه کښې قائداعظم وړومبي زدکړه هم کړې وه۔

ه: دَ صوبه خیبر پښتو نخوا طالب علمانو قائداعظم ته دَ چندې څو مره روپۍ ورکړې؟

جواب: زمونږ دَصوبې خیبر پښتونخوا دَطالب علمانو اتهٔ زره روپۍ ورکړې چې هغوي دَ چندې په توگه راغونډې کړې وې۔

سوال2: لاندې تکې په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| غوښتنه | ټول اولس په اتفاق دَ پاکستان دَجوړېدلو غوښتنه وکړه |
| زده کونکې | مونږ ټول دَ علم زده کونکې یو |
| کالج | نن دَ کالج چھټیانې شوې |
| هلې ځلې | دَوطن دپاره هلې ځلې کول زمونږ فرض دی |
| پېغام | ارشد کور ته دَ نهٔ تللو پېغام ورسوهٔ |
| خپلواکه | نن مونږ دَ یو خپلواکه وطن مالکان یو |

سوال3: دهر سوال درې درې جوابونه دي۔ په صحیح جواب خالي خایونه ډک کړئ۔

الف: دَازادۍ په تحریک کښې طالب علمانو هم پوره پوره ............ وکړه۔

1) ✓مرسته 2) مخالفت 3) مداخلت

ب: دَپاکستان تکے په وړومبي ځل یو زلمي طالب علم ............ وړاندې کړے وُه؟

1) چودهري رحمت علی ✓
2) چودهري برکت علی
3) چودهري شفقت علی

ج: دَ دې صوبې طالب علمانو ورته دَ چندې ............ روپۍ ورکړې۔

1) درې زره 2) شل زره 3) اتهٔ زره ✓

د: دَ اسلامیه کالج پېښور او ایډورډز کالج طالب علمانو دَ پاکستان دَتحریک کامیابولو کښې ډېر ښهٔ ............ ادا کړے دے۔

1) گفتار 2) کردار✓ 3) چلند

سوال4: لاندېنو جملو کښې صحیح اور غلطې جملې بیلې بیلې کړئ؟

الف: دَازادۍ په تحریک کښې طالب علمانو پوره پوره مرسته کړې وه۔ ✓

ب: دَپاکستان نوم په وړومې ځل علامه اقبال وړاندې کړے وُه۔ x

ج: چودهري رحمت علی په لندن کښې زده کړه کوله۔ ✓

د: ایډورډز کالج په کراچی کښې دے۔ x

سوال5: دَ جنس په لحاظ دَ اسم دوه قسمونه دی، مذکر یا نر اسمونه لکه سړے ، آس، هلک او داسې نور او مونث یا ښځینه اسمونه لکه ښځه، اسپه او چینې۔

په دې سبق کښې درې مذکر او درې مونث اسمونه ولټوئ او په خپلو کاپو کښې یې ولیکئ۔

| مذکر | مونث |
|---|---|
| بوډا | مدرسه |
| کتاب | فضا |
| اسلم خټک | پښتونخوا |

## ...... محنت کښې عظمت دے ......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: په خپل لاس کار کول څنگه دي؟

جواب: په خپل لاس کار کول سنت دي۔

ب: څوک چې په خپل لاس کار نهٔ کوي نو څهٔ نقصان ورته رسي؟

جواب: څوک چې په خپله کاروروزگار نهٔ کوي نو هغوي

پرسمن شي او چې لېوه ... هم راشي نو د هغې د
مقابلې توان پکښې نه وي۔

ج: دَ کر کروندې (زراعت) څۀ اهمیت دے؟

جواب: کر کرونده یو داسې کسب دے چې دا کلهمو بنیادمو دپاره فائده مند دے او کوم خلق چې دغه کسب کوي نو دَ هغوي درناوے پکار دے۔ کر کرونده دَ ټولو صنعتونو بنیاد دے۔

د: دَ کارخانو ډېرې غټې فائدې کومې کومې دي؟

جواب: دَ کارخانو جوړولو یوه فائده خو دغه ده چې دَ ملک قیمتي دولت (زر مبادله) به ملک دننه پاتې کېږي۔ دویمه دا چې په ارزانه بیعه څیزونه تر لاسه کېدے شي او درېیمه دا چې بې روزگاره خلقو ته روزگار او مزدورۍ تر لاسه شي۔

ه: زراعت او صنعت دَ یو وطن په حالت څۀ اثر غورځوي؟

جواب: کر کرونده یا زراعت او صنعت دواړه دَ یو وطن په ترقۍ او پرمختگ کښې بنیادي برخه لري۔

و: زمونږ پېغمبر ﷺ دکسب کونکو په حقله څۀ فرمائیلي دي؟

جواب: زمونږ پېغمبر حضرت محمد ﷺ فرمائیلي دي "چې څوک کسب (محنت) کوي نو هغه دَ الله پاک دوست وي"

سوال2: لاندینی ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| ثواب | چا سره ښېگړه کول دَ ثواب کار دے |
| پرسمن | په ډېر خوب بنده پرسمن شي |
| کرکرونده | کرکرونده یو ډېر اهم کسب دے |
| درناوے | دکسب گر (زمیندار) درناوے پکار دے |
| پومبه | ډېر مېنې نه مالوچ حاصلولے شي |
| مالوچ | مالوچ ډېر گرم څیز دے |
| رودلے | دَ مالوچو نه په کارخانو کښې کپړه رودلے شي |

سوال3: دَ محنت په اهمیت دَلسو کرښو مضمون ولیکئ۔

......دَ محنت اهمیت......

محنت کول یا په خپل لاس کار کول یو ډېر ښۀ عادت دے څوک چې په خپلو لاسو محنت نۀ کوي۔ نو هغه پرسمن او دَ هیڅ کار کسب جوگه پاتې نه شي۔ په خپل لاس محنت کول سنت دے۔ زمونږ پېغمبرؐ به هم په خپل لاس محنت کولو۔ او خلقو ته به ئې هم تلقین کولو۔ په خپل لاس محنت کولو کښې حرکت هم دے۔ او برکت هم مونږ کۀ چار چاپېره خپل ماحول ته وگورو او بیا خاص کر ځناورو ته وگورو۔ نو

... دَ خپل نسل ... کولو له پاره څو مره محنت کوي
معوی هم دَ خپل خوراک جمع کولو څو مره محنت کوي۔ بل
یو مېږے به خپل لاس محنت کوي۔ او دَ هغه وجود
چې کوم سړے به خپل ... تل به گردش کښې وي۔ او ډېر
کلک او چابک وي۔ ونه ئې ... حملې کوي۔ لنډه دا چې په ژوند ډېرولو کښې
کمې بیمارۍ ... دَ محنت کولو ډېر زیات اهمیت دے۔ او بغیر محنته ژوند به
مرگ حساب دے۔

سوال4: دَ معنو یا مفهوم په لحاظ دَ اسم دوه قسمونه دي

1) معرفه یعنې خاص نوم
2) نکره یعنې عام نوم

دَ معرفې اسم هغه اسم ته وائي چې دَ چا خاص سړي، څیز یا ځاے نوم وي لکه احمد، کوه نور، کوهاټ، اباسین او داسې نور۔

دَ نکرې اسم هغه اسم ته وائي چې دَ چا خاص سړي، څیز یا ځاے نوم نۀ وي بلکې دَ هغه جنس هر یو څیز ته هغه نوم ونیلے شي لکه سړے، کاڼے، ښار چې دا دَ هر یو سړي، هر کاڼي او هر ښار دپاره استعمالېدے شي۔ تاسو په دې سبق کښې پینځۀ پینځۀ اسم معرفه او اسم نکره ولټوئ او په خپلو کاپو کښې ئې ولیکئ۔

| اسم معرفه | اسم نکره |
|---|---|
| پومبه | پرسمن سړے |
| چینی | کرونده گر |
| پاکستان | کارخانه |
| حضرت محمدؐ | کپړه |
| الله پاک | جامې |

سوال5: لاندې ځنې لفظونه ورکړې شوي دي او مخامخ ورته درې درې معنې لیکلې شوي دي تاسو پکښې دَ صحیح معنې انتخاب وکړئ۔

باور: اعتماد✓، یقین، قسم
پرسمن: بې کاره، مست✓، تکړه
کسب: کار✓، پېشه، روزگار
زراعت: زمېدارۍ، کرونده✓، هنر
پرمخ تگ: رفتار، ✓ترقۍ، زوال

......دَ اسلام وړومبۍ شهیده......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: دَ حضرت سمیهؓ دَ پلار څۀ نوم وۀ؟

جواب: دَ حضرت سمیهؓ دَ پلار نوم خیاط وۀ۔

ب: وینځه څۀ ته وائي ؟

جواب: په غزا کښې قتلې شوې ښځه چې يې نکاح ساللې شي۔

ج: دَ حضرت سميهؓ دَ خاوند او زوي څۀ نومونه وو؟

جواب: دَ حضرت سميهؓ دَ خاوند نوم حضرت ياسرؓ او دَ زوي نوم حضرت عمارؓ وۀ۔

د: دَ حضرت سميهؓ او دَ هغوي په کورنۍ کوم قسم ظلمونه کړلے شول؟

جواب: کافرو به دې ته دَ اوسپنې زغره واغوستله او په سوررنمر کښې به يې ودروله۔ دَ گرمۍ او دَ اوسپنې تود والي سره به يې بدن ړ سوزېدۀ۔

ه: دَ حضرت سميهؓ دَ شهادت حال بيان کړئ۔

جواب: مشرکانو ډېر کوششونه وکړل، خپلې ټنې يې وشلولې او زارۍ يې ورې شنې کړې خو دوی يې دې ته جوړ نۀ کړل چې دَ اسلام حقه اوربښتونې لاره پرېږدي۔ يوه ورځ چې دوی ماښام راوستے شو نو ابوجهل ورته په دو ردو سر شو او بيا يې غصه دومره زياته شوه چې پاځېدو او نېزه يې راپورته کړه او حضرت سميهؓ يې په نېزه داسې ووهله چې هم په هغه درنگ يې شهادت نصيب شو۔

سوال 2: په لاندېنو ټکو اعراب ولگوئ۔

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مغيره | مُغَيره | ابو حذيفه | اَبُو حَذِيْفَه |
| غوني | غَوْنَي | زغرې | زَغرې |
| زغم | زَغم | استقامت | اِستِقَامَتْ |
| تلقين | تَلْقِيْن | ...... | ...... |

سوال 3: دَ دې محاورو مطلب څۀ دے؟ په خپلو الفاظو کښې يې استعمال کړئ؟

| محاورې | معنې | جملے |
|---|---|---|
| ټنې شلول | خپل وس کول | سهيل په اکبر خپلې ټنې وشلولې |
| غونې خيږ خيږ کېدل | وېرېدل | دَ امجد امتحان له وېرې غونې خيږ خيږ شو۔ |
| زارې شنې کول | منت کول | [illegible] په شاگردانو زاره شنه کړه خو هغوی کار نۀ کوی |

سوال 4: په دې سبق کښې دَ اسم معرفې او اسم نکرې زيات مثالونه موجود دي۔ تاسو ترې درې درې مثالونه وړکړئ۔

| اسم معرفه | اسم نکره |
|---|---|
| حضرت سميهؓ | شهيده |
| ابوجهل | وينځه |
| حضرت ياسرؓ | زغره |

......زمونږ دَ سيمې دَ وړو لوبې......

سوال 1: مختصر جوابونه وړکړئ؟

الف: چېندرو دَ چا لوبه ده؟

جواب: چېندرو دَ جينکو لوبه ده۔

ب: دَ چېندرو په لوبه کښې څو کوړ کېږي؟

جواب: دَ چېندرو په لوبه کښې شپږ کوړکې وي۔

ج: دَ بلورو په لوبه کښې څۀ استعمالولے شي؟

جواب: دَ بلورو په لوبه کښې غوزان اور کوډې استعمالولے شي۔

د: پټ پټونې هلکان او جينکې دواړه کولے شي کۀ نه؟

جواب: او پټ پټونے جينکې او هلکان گلوډ کولے شي۔

سوال 2: لاندېنو جملو کښې صحيح ته صحيح او غلط ته غلط وليکئ:

الف: موخه په بلورو کولے شي۔ X

ب: چېندرو کښې موی استعمالېږي۔ ✓

ج: سخې سخې دَ ماشومانو لوبه ده۔ X

د: پټ پټونې کښې يو لوبغاړے سترگې پټوي۔ ✓

ه: غشے دَ لينډۍ په ذريعه وېشتے شي۔ X

سوال 3: تاسو له چې په دې لوبو کښې کومې لوبې درخې دَ هغې نومونه وليکئ او دَ خپلو سيمو دَ لوبو نومونه هم وليکئ۔ فعل شته دے خو فاعل يې معلوم نۀ دے چې خط چا وليکلو نو ورومبۍ جمله دَ فعل معروف او دوېمه جمله دَ فعل مجهول مثال دے۔ يعنې هغه چې فاعل يې معلوم وي هغه فعل معروف او چې فاعل يې معلوم نۀ وي هغه فعل مجهول وي۔

فعل معروف: ريحان کتاب ولوستو
فاطمه لوبې کوی۔
نديم موخه ووېشته

فعل مجهول: کتاب ولوستے شۀ
لوبې کولې شی
موخه ووېشتې شوه

دَ دې نه علاوه دَ فعل معروف او فعل مجهول نور درې درې مثالونه وليکئ۔

جواب: درې فعل معروف

1) خلان خط وليکو
2) عارف بلوری وکړه
3) [illegible] ډارو واچول

فعل مجهول

1) خط وليکلے شو

2) بلوري وکړے شو
3) دارو واچولے شو

## ......جابر بن حیان......

**سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ۔**

الف: دَجابر بن حیان نوم په څهٔ وجه په عزت اخستې شي؟

جواب: جابر بن حیان په هغه مسلمانانو سائنسدانانو کښې دلوړې درجې مالک دے چا چې دَ علم خدمت کړے دے او دَ انسانانو دَ فائدې او ښېګړې دپاره یې کوشش کړے دے۔ هم د غه وجه ده چې په بین الاقوامي توګه دَ جابر بن حیان دَ علمي کارونو اعتراف کولے شي او په عزت او احترام یې نوم اخستې شي۔

ب: دَجابر بن حیان دَ وړو کوالي حالات په مختصره توګه بیان کړئ۔

جواب: دَ جابر بن حیان باره کښې وئیلے شي چې دے په طوس یا خراسان کښې پیدا شوے وهٔ او دَ یوې غریبې کورنۍ سره یې تعلق لرلو۔ دَدهٔ پلار به دَ دارو ګانو خرڅولو کاروبار کولو۔ خود دَحکومت سره دَ اختلاف په وجه هغه پانسي کړے شو او دَ یتیم جابر دَ پالنې کار دَ هغهٔ مور تر سره کړو۔ بیا مور دَ خپلوانو کره دَ کوفې اطرافو ته ولیږلو او هلته یې دَ وړو کوالي زمانه تېره کړه۔تعلیم یې ډیر کم وهٔ۔ کله چې زلمے شو نو کوفې ته لاړو۔ دغلته علمي ماحول وهٔ۔ چې په جابر یې ډیر اثر وکړو او دَ زیاتې علم حاصلولو کلکه اراده یې وکړه۔ هلته یې په یو مدرسه کښې داخله واخسته او دَ علم دَ شوق لرلو په وجه ډیر زر دَ علمونو په حاصلولو کښې کامیاب شو۔

ج: جابر بن حیان په کوفه کښې خپله علمي نیمګړتیا څنګه پوره کړه؟

جواب: جابر بن حیان چې کله کوفې ته لاړو۔ نو دغلته ټول ماحول علمي وهٔ۔ هلته ئې په یوه مدرسه کښې داخله واخسته او دَعلم دَ شوق په وجه ډیر زر دَ علمونو په حاصلولو کښې سر بالا شو۔

د: جابر بن حیان دَ کوم علم دپاره تجربې وکړې او خپل نوم یې روښانه کړو؟

جواب: جابر په علمي ژوند کښې لاڅهٔ کړې نهٔ ور چې په سر کښې یې دَ کیمیا ګرۍ (دَ سرو زرو جوړولو) لیونتوب پیدا شو۔ دهٔ دَ کیمیا ګرۍ آلات او سامان راغونډ کړو او تجربې یې شروع کړې۔ ډیرو تجربو او معلوماتو حاصلولو نه پس اګر چې هغهٔ سرهٔ زر جوړ نهٔ کړے شو خو دَ نورو څیزونو په جوړولو یې شهرت تر لاسه کړو۔

ه: دَجابر بن حیان په کارنامو کښې پینځهٔ کارنامې خپلو ګاټو کښې خوش خطه ولیکئ۔

جواب:
- ☆ دَ قلم طریقه (CRYSTALIZATION)او په دې طریقه دواګانې قلمي کول۔
- ☆ فلټر کول او دَ هغې طریقه
- ☆ هغه ړومبے سائنسدان دے چې درې قسمه نمکیات یې دریافت کړل
- ☆ جابر دَ څرمنې رنګ کولو طریقه معلومه کړه۔
- ☆ دَ وېښتو تورولو دپاره یې خضاب تیار کړل

**سوال2: دَلاندینو تکو اپوټه ولیکئ:**

| لوړ | پست | علم | جهل |
|---|---|---|---|
| عزت | زلت | غریب | مالدار |
| کم | ډېر۔ سهوا زیات | لیونے | روغ |
| ښېګړه | بدکول | ښار | کلے |

**سوال3: دَلاندینو الفاظو واحد ولیکئ:**

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| مسلمان | مسلمانان | درجه | درجې |
| کار | کارونه | دارو | داروګان |
| خپل | خپلوان | تجربه | تجربې |
| آله | آلات | ...... | ...... |

**سوال4: دَ کالم (الف) لفظونه دکالم (ب) لفظونو سره جوړه جوړه کړئ چې نوي بامعنې تکي جوړشي:**

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| علمي | اراده |
| کلکه | ماحول |
| لویه | ګرۍ |
| کیمیا | سائنسدان |
| خلیفه | هارون الرشید |

**سوال5: په ورکړې شوي درېو جوابونو کښې په صحیح جواب دَ (✓)نخښه ولګوئ:**

الف: دَجابر بن حیان تعلق دَ کومې کورنۍ سره وهٔ؟
1) دَ غریبې ✓ 2) دَمالدارې
3) دَ شاهي

ب: دَ جابر بن حیان په سر کښې دَ څهٔ لیونتوب پیدا شو؟
1) دَهسپتال جوړولو 2) دَ کارخانې جوړولو
3) دَسروزرو جوړولو ✓

ج: جابر بن حیان دکوم علم باني ګڼلے شي؟

Scanned with CamScanner

ذطب ذ علم　　2) دکیمیا ذ علم ✓

1) ذمنطق ذ علم

3) ذجابر بن حیان ایجادات ذ چا په ښېګړه راغلي؟

د) دکلهم السالیت ✓　　2) ذ مسلمانانو

1)

3) ذپښتنو

## ......أمیر حمزه خان شنواری......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف) امیر حمزه خان شنواري دکومې درجې شاعر وۀ؟

جواب: امیر حمزه خان دَ اوچتې درجې شاعر وۀ

ب) دَ امیر حمزه خان شنواري دَ پلار نوم څۀ وۀ او دې کله او کوم ځائې پیداشوے وۀ؟

جواب: امیر حمزه خان شنواري دَ خیبر ایجنسی په لوارګي کښې په کال 1907ء کښې پیدا شو۔ پلار نوم يې ملک میرباز خان وۀ۔

ج) حمزه صاحب دَ چا په وینا پښتو شاعري شروع کړه؟

جواب: حمزه صاحب دَ خپل پیر په وینا پښتو شاعری شروع کړه۔

د) دَ حمزه صاحب په شاعری کښې دَ څۀ رنګ ښکاره دے؟

جواب: دَحمزه صاحب په شاعری کښې دَ تصوف رنګ ښکاره دے۔

ه) حمزه صاحب ته دَ غزل بابا ولې وائي؟

جواب: دَغزل کمال ته رسولو په وجه ورته دَ غزل بابا لقب ورکړے شوے دے او یقیناً چې دغه لقب ورسره ښائي هم۔

و) حمزه صاحب کله وفات شو او چرته دفن کړے شو؟

جواب: حمزه صاحب په 18 مارچ 1994ء کښې وفات شو لوارګی کښې خاورو ته وسپارلے شو۔

ز) دَ حمزه صاحب دَ څلورو کتابونو نومونه ولیکئ۔

جواب: نمزولې ـ بهیر ـ یون ـ سېرلے په آئینه کښې

ح) دَحمزه بابا کلیات په څو جلدونو کښې چاپ دي؟

جواب: په پنځو جلدونو کښې۔

سوال2: دَواحد جمع او دَ جمع واحد ولیکئ۔

| واحد | جمع | واحد | جمع |
|---|---|---|---|
| پښتون | پښتانۀ | شاعر | شاعران |
| نوم | نومونه | واده | ودونه |
| مرید | مریدان | اجلاس | اجلاسونه |
| مشاعره | مشاعرې | ...... | ...... |

سوال3: په ورکړې شوي دریو جوابونو کښې په صحیح جواب

دَ (✓) نښه ولګوئ۔

الف) دَحمزه شنواري دَ حج دَ سفر نامې څۀ نوم دے؟

1) دَ مکې په لور　　2) دَ مدینې په لور

3) دَحجاز په لور ✓

ب) دَ نوښار پښتو ادبي جرګه په کوم کال جوړه شوې وه؟

1) 1933ء ✓　　2) 1934ء

3) 1935ء

ج) حمزه شنواري دَ علامه اقبال دَ کوم کتاب پښتو منظومه ترجمه کړې وه؟

1) جاوید نامه ✓　　2) ضرب کلیم

3) بال جبریل　　4) بانګ درا

د) دَحمزه بابا کلیات دَ پښتو کومې ادارې چاپ کړې دي؟

1) پښتو ادبي ټولنې　　2) اولسي ادبي جرګې

3) پښتو اکیډیمي ✓

ه) اولسي ادبي جرګه په کوم کال جوړه شوې وه؟

1) 1948ء　　2) 1950ء ✓

3) 1951ء

## ......مرد......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ۔

الف: مرد په څۀ مرد جوړیږي؟

جواب: مرد په خپل کردار مرد جوړیږي۔

ب: هم مهره لري هم زهر ........... ښۀ مردان وي لکه مار دَ دې شعر څۀ مطلب دے؟

جواب: وائي چې کوم سرے هښیار وي۔ نو دَ هغه مثال دَ شطرنج دَ کټحه هسې وي۔ او هغه هم دَ کارکټې۔ او چې تکړه وي، نو لکه دَ مار په مثال وي۔ چې بو ځاځکې لاري لي هم دَ زهر پشان وژل هم کوی او تریاق همجوړیږي۔

ج: دَ تندر او باران نه څۀ مراد دے؟

جواب: یعنی دَ تندر پشان تېزاو کلک او دَ باران پشان په نرمی دَ اور علاج۔

د: مرد دَ څۀ غم کوي؟

جواب: مرد دَ خپل هنر غم کوی۔

ه: ناصر د په څۀ فخر کوي؟

جواب: نامرد په خپل نسب فخر کوی۔

سوال2: دَټکو معني ولیکئ۔


| الفاظ | معنی | الفاظ | معنی |
|---|---|---|---|
| ګفتار | خبري | کردار | عمل |

| مهره | دکار مهره - یا - د شطرنج ګیټی | هنر | علم یا فن |
|---|---|---|---|
| زر | سره زر - یا - مال دولت | دینار | د عربو پیسه |
| نسب | ذات | دُر | لعل یا موتی |
| پیېل | پنډل یا په تارکښې اچول | ...... | ...... |

سوال 3: مصرعې پوره کړئ.

مرد به نه شي په ګفتار
هغه مرد نه وي پکار
هم مُهره لري هم زهر
مرد به غم د خپل هنر کا
ناصر د فخر په نسب کا
لعل و دُرېږي په تار

سوال 4: لاندې په ورومبی کرښه کښې ټکي ورکړې شوي دي او په دویمه کرښه کښې د هغې اپوټه یا متضاد ګلوډ لیکلي شوي دي ـ تاسو د هر لفظ سره خپل متضاد ملګرے کړئ.




سوال 5: کوم لفظونه چې یو شان معني لري هغو ته مترادف الفاظ وائي لکه دنیا او جهان تاسو د لاندې ورکړې شوي لفظونو مترادف ولیکئ.

| ګفتار | خبرې | مرد | سړے |
|---|---|---|---|
| هنر | کسب یا علم یا فن | زر | کالے یا سره زر |
| فخر | ویاړ | ...... | ...... |

......د قائداعظم وینا......

سوال 1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: قائداعظم به طالب علمانو ته همېشه د څه وینا کوله؟

جواب: قائداعظم به همېشه طالب علمانو ته ویل چې تعلیم حاصل کړئ او دغه زده کړه مو د ملک او قوم په ښه راولئ.

ب: په 12 اپریل کال 1948ء کښې قائداعظم د اسلامیه کالج پېښور طالب علمانو ته څه ووېل؟

جواب: په 12 اپریل کال 1948ء کښې د اسلامیه کالج پېښور د هلکانو سره سپاس نامې په جواب کښې ووېل "زما زلمو دوستانو تاسو له پکار دي چې خپل پام د سائنس، تجارت، بنکارۍ، بیمې، صنعت او حرفت او هنري تعلیم په لور وګرځوئ زمونږ په ژوند کښې چې کوم زبردست او بنیادي بدلون راغلے دے لو پکار دي چې تاسو په هغې ځانونه پوره کړئ تاسو له بوازې سرکاري نوکرۍ مقصد ګرځول پکار نه دي. لکه چې د دې بدلون نه اګاهو په تاسو داسې کول. ستاسو په وړاندې اوس نوي میدانونه او نوې لارې پرانستې دي، چرته چې ستاسو د پاره بې شمېره موقعې دي."

ج: که چرې د قائداعظم په نصیحتونو عمل وکړے شي نو نتیجه به یې څه وي؟

جواب: که چرې په دغو نصیحتونو عمل وکړے شي نو ډېرو مشکلاتو به قابو بیاموندے شي او د طالب علمانو راتلونکے ژوند به ورسره روښانه شي.

سوال 2: د لاندینو ټکو معني ولیکئ.

| لفظونه | معني | لفظونه | معني |
|---|---|---|---|
| پېړۍ | سل کاله | اصول | قاعده یا قانون |
| اګاه | خبر تیا | هنري | په لاسو کول یا فني |
| نمونه | مثال | روښانه | د رڼا نه ډک یا رڼا کوونکے |

سوال 3: په دې سبق کښې پېنځه اسم معرفه او پېنځه اسم نکره ولټوئ او په کاپو کښې یې ولیکئ.

| اسم معرفه | اسم نکره |
|---|---|
| قائداعظم | طالب علم |
| پېښور | کالج |
| پاکستان | دوستان |
| اسلامیه کالج | نوکر |
| ایډورډ کالج | استاذ |

......بوعلي سینا......

سوال 1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: د بوعلي سینا د پلار څه نوم وه او دې د کوم ځاې وه؟

جواب: دَ بو علی سینا دَ پلار نوم عبدالله وُه. او دهٔ پلار دَ بلخ استوګن وه. او بو علی سینا بخارا په کلي کښې پیدا شوې وُه.

ب: بو علی سینا دَ څو کالو وُه چې قرآن مجید یې یاد کړو؟

جواب: دَ لسو کالو په عمر کښې یې قرآن مجید یاد کړو.

ج: دَ پینځلسو ، شپاړسو کالو په عمر کښې بو علی سینا کوم علمونه حاصل کړي وو؟

جواب: دَ پینځلسو شپاړسو کالو په عمر کښې بو علی سینا دَ طب ، فلسفې، فقهې، ریاضی، لُغت، عروض، منطق، علم کلام او نورو علمونو حاصلولو کښې کامیابي تر لاسه کړه.

د: دَ باچا دَ علاج کولو نه پس باچا بو علی سینا په کومه عهده مقرر کړو؟

جواب: باچا ابن سینا دَ شاهي کتب خانې مهتمم مقرر کړو.

ه: بو علی سینا کله وفات شو او قبر یې چرته دے؟

جواب: په 21جون کال 1037عیسوي دغه عظیم سائنسدان وفات شهٔ مزار یې په اصفهان کښې تر ننه موجود دے.

و: بو علی سینا څو مره کتابونه لیکلي دي؟

جواب: دَ ابن سینا دَ کتابونو شمېر دَ سلو نه زیات دے. خو دېرش کتابونه یې عام دي او موضوع یې معلومه ده.

سوال2: دَ لاندېنو ټکو معنې ولیکئ:

| استوګن | وسېدونکے | پالنه | پالل |
|---|---|---|---|
| طب | صحت | ناروغه | ناجوړه |
| شفا | رغېدل | مهتمم | دکتب خانه مشر |
| کتب خانه | لائبرېری | لټون | تالاش |

سوال3: واحد او جمع بېل بېل ولیکئ:

واحد: طرف ، واده، رساله، علم

جمع: کتابونه، کلونه، ارادې

سوال4: په دې سبق کښې دَ قمرې او شمسې حروفو لټون وکړئ او کاپو کښې یې ولیکئ.

جواب: عبدالله، تشریح الاجسام. علم الادویه. وغیره وغیره

سوال5: په لاندې ورکړې شوؤ درېو جوابونو کښې دَ سبق مطابق صحیح جواب ته دَ (✓) نخښه ولګوئ.

الف: دَ بو علی سینا خپل نوم څهٔ وُه؟

1) شیخ ابرار✓ 2) شیخ اياز 3) شیخ حسین

ب: ابن سینا دَ څو کلو نو په عمر کښې پلار سره بخارا ته لاړو؟

1) دَ لسو کلونو 2) دَ شپږو کلونو✓

3) دَ اتو کلونو

ج: ابن سینا دَ څنګه اخلاقو څښتن وُه؟

1) دَ ښو اخلاقو✓ 2) دَ خرابو اخلاقو

3) دَ لږکو اخلاقو

د: په ابن سینا کوم مرض حمله کړې وه؟

1) دَ سر درد 2) دَ کولمو درد✓

3) دَ ښو درد

## ......نیاز بادشاه شهید......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: کوم خلق په وطن ځان قربانوي؟

جواب: څوک چې خپل وطن سره مینه محبت لري نو هغوي په خپل وطن ځان قربانوي

ب: هندوستان په پاکستان کله حمله کړې وه؟

جواب: هندوستان په شپږم ستمبر 1965ء کښې په پاکستان دَ شپې ناڅاپه حمله وکړه

ج: نیاز بادشاه شهید په 6ستمبر کال 1965ء کښې چرته وُه؟

جواب: دَشپږم ستمبر کال 1965ء په شپه چې کله دښمن حمله کوله نو نیاز بادشاه دَ بېدیان (لاهور) په محاذ موجود وُه.

د: نیاز بادشاه شهید په څهٔ طریقه مقابله جاري وساتله؟

جواب: دَمقابلې جواب نیاز بادشاه دا وکړو چې هغوي په کوم لاسې بم راګزار کړو نو نیاز بادشاه په بېرته په هغوي ورو غورځولو او دغه شان یې دَ دښمن بو سپکشن فوځ تباه کړو. پوره یوه ګېنټه دغه شان مقابله جاري وه.

ه: نیاز بادشاه شهید دَ کوم ځاے وُه؟

جواب: نیاز بادشاه شهید دَ کرک ضلعې دَلتمبر کلي او سېدونکے وُه

و: نیاز بادشاه ته دَ بهادری په وجه کوم اعزاز ورکړے شوے وُه؟

نیاز بادشاه ته دَ بهادری په وجه ستارهٔ جرات اعزاز ورکړے شوے وُه.

سوال2: په دې ټکو اعراب ولګوئ:

| پالنه | پَالَنَه | مقابله | مُقَابلَه |
|---|---|---|---|
| سرشیندونکي | سَرشِینَدُونکی | رېنجرز | رېنجَرز |
| خروب | خَرُوب | لاسي بمونه | لاَسي بَمونه |

سوال3: خالي ځایونه په مناسبو ټکو ډک کړئ:

دَ دښمن فوځ چې مورچې ته دننه شهٔ نو دَ نیاز بادشاه شهید مرے یې رابهر کړو. دَ دښمن کرنیل خپلو سپاهیانو ته ووې چې دا هغه بهادر دے چې دهٔ په یوازې

خان دَ ښې دَ څلورو بجو نه دَ ورځې تر اتو بجو پورې مولو سره مقابله وکړه.

سوال4: دکالم (الف) سره سمون خوړونکي دکالم (ب) لفظونه په خپلو کښې یو ځاې کړئ.

| کالم الف | کالم ب |
|---|---|
| دَوطن | لمانځ بادشاه |
| دَ شهادت | راهبرته |
| لانس نائیک | پالنه |
| لاسي بم | واوربدنه |
| اواز | لوړه درجه |

سوال5: لاندیني ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| وطن پالنه | زلمی همېشه دَ وطن پالنه خپل فرض ګڼي |
| شهادت | شهادت ډېره لوړه مرتبه ده |
| ناڅاپه | په عرفان ناڅاپه کاڼې راپرېوته |
| ایکې یو اخې | خلان ایکې یو اخې بازار ته لاړو |
| دفن | قائداعظم په کراچۍ کښې دفن دے |
| اعزاز | تمغه امتیاز یو لوئے اعزاز دے |

سوال6: اسم ظرف هغه اسم ته وائي چې دَ ځائے او وخت دپاره استعمالے شي لکه سکول ، جومات، هسپتال، ډاک خانه ،کال، میاشت، ورځ ګهنټه

دَ اِسم ظرف دوه قسمه دي.

1) اسم ظرف مکان
2) اسم ظرف زمان

1) اسم ظرف مکان: هغه اسمونه چې دَ ځایونو نومونه وي لکه سکول ،هسپتال، ډاک خانه، ریلوے سټیشن او ځنې نور.

2) اسم ظرف زمان: هغه اسمونه چې دَ وخت او زماني سره یې تعلق وي لکه کال،میاشت، ګهنټه، سېکنډ، منټ، پهرې او ځنې نور

په دې سبق کښې دَ اسم ظرف مکان او اسم ظرف زمان لټون وکړئ.

جواب:

1) اسم ظرف مکان: مورچه۔ میدان جنګ۔ محاذ
2) اسم ظرف زمان: شپږم ستمبر ،ګهنټه۔ څلوربجې ۔ اته بجې

......میږه......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: میږه چرته اوسېږي؟
جواب: میږه اکثر په کندو کښې اوسېږي۔
ب: دَ میږو قام قبیله څنګه ده؟
جواب: دَ میږو قام قبیله ټول غلچکي ، او دَ بدو مل وي۔
ج: دې نظم کښې دَ میږې کومې ورې څنګه بیان کړې شوې دي؟
جواب: دَ میږې سترګې کاسهرې،کلک غاښونه، لرمې پېښې، دَ کوې پشان خېټه، دَنولی پشان سر، دَ توره بازهسې برېت، او دَ اورږدکلو پشان خپټه ری۔
د: په میږه چې پېشو پېښنه شي نو انجام یې څه شي؟
جواب: په میږه چې پېشو تېره شي۔ نو هغت پرې راشي، هر څه ترې هېر شي۔او په نهرو خیټه یدې ګیاره باره تېرشي۔ او هر ترې پیشو وخوری۔

سوال2: خالي ځایونه ډک کړئ.

1) سترګې دي کاسېرې
2) کلک دي دې غاښونه
3) پاپې دي لرمې لرمې دي
4) خېټه دي کولپې ده
5) سر دي دَ نولي هسې
6) برېتوکې دَ توره باز هسې

سوال3: دَ لاندینو ټکو معني ولیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| غلچکی | په غلا غلا کتل غلا کوونکے | کاسهری | بداخلاقي |
| چل بازي | چالاکي | پاپی | پښې یا پنجې |
| بوته | کټه | ځخځوړے | وړوکے شان سوړے |

سوال4: شاعر دَ میږې همت ستائیلے دے۔ دَ همت په سر خط پینځه کرښې مضمون ولیکئ۔

......همت......

همت یو داسې عمل دے۔ چې دې سره انسان اعصابی طور هم ځوان وي۔او بدني طور هم نهٔ خرابیږي۔ هر کله چې انسان همت کوی او خپله حوصله نه بائیلي۔ نو دا دَ الله تعالی لوظ دے چې هغه انسان به چرې هم نهٔ خواریږي۔ او نهٔ به نهر اوره شي۔همت په انسان کښې جذبه پیدا کوي۔او چې کله جذبه پیداره شي ۔نو عمل پیداشي۔ مطلب دا چې یو کار هله عملی طور کیداشي چې څوني انسان اراده او همت نهٔ وی کړے۔ او داخو عامه خبره ده چې "همت کښې برکت وي".

## ......دقیصه خانی د شهیدانو یادګار......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: دقیصه خانی د شهیدانو یادګار دپښتنو کومه جذبه راپاروي؟

جواب: دا یادګار دهغه واقعې یاد تازه کوي چې په 23اپریل 1930عیسوي دلته د پیرنګي فوځ په تش لاسو خلقو ګولۍ چلولې وې او هغوي یې د آرمرد ګاډو د لاندې چخنې کړي وو۔

ب: دقیصه خانی پیښه په کوم تاریخ او کوم کال شوې وه؟

جواب: دقیصه خانی پیښه په 23اپریل 1930ء کښې شوې وه۔

ج: دخلقو دپُرامنه احتجاج جواب پیرنګیانو په څه ورکړو؟

جواب: پیرنګي حکومت ته چې معلومه شوه چې سبا خلق دحکومت خلاف جلوسونه را اېستل غواړي نو د ازادۍ خوښو مشران یې ګرفتارول شروع کړل چې پکښې خان عبدالغفار خان او د هغه نور ملګري علامه عبدالرحیم پوپلزے، علي ګل خان، خان میر هلالي او نور ډیر کسان ګرفتار کړے شو۔

د: یو زلمي چې د سر نه ودانګل نو څه یې وکړل؟

جواب: یو زلمي چې د سر نه ودانګل نو د ګاډي لاندې ورلنونو او د ګاډو د تیلو ټېنکۍ ته یې اور ورته کړو۔

ه: دقیصه خانی په دې پیښه کښې څومره خلق شهیدان شوي وو؟

جواب: د یوې اندازې مطابق 325ازادۍ خوښي شهیدان شوي وو۔

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| یادګار | د شهیدانو یادګار په قیصه خانی بازار کښې دے |
| جلوس | نن ډیر لوئے جلوس بازار ته راغلو |
| اشتعال | د دښمن د ظلم نو چې په خلقو کښې اشتعال پیدا شو |
| مظاهره | همېشه د نیکو خیالاتو او کارونو مظاهره پکاروي |
| سورالوان | ذیشان د غصې نه سور الوان شو |
| قیامت | د قیامت په ورځ به هر چا سره حساب کتاب کېږي |
| ...... | ...... |

سوال3: د لاندینو ټکو او ترکیبونو معني ولیکئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| لازواله | تل ترتله | اصلاح کونکي | لاره ښود زولکي یا تربیت کونکي |
| آرمرډ ګاډي | ټوسلي ګاډي مثال په طور ټینک | جارحانه | په بهادرۍ سره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د سر نه دانګل | د سرښندونو لپاره اول | کمک | ملګرتیا |
| وحشي | ښناور په شان خوي | ...... | ...... |

سوال4: لاندینو لفظونو کښې د مذکر لفظ مونث او د مونث لفظ مذکر ولیکئ۔

| مذکر | مؤنث | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|---|
| کونټر | کونټره | غوئے | غوا |
| ورور | خور | پلار | مور |
| زمرے | زمرۍ | ...... | ...... |

سوال5: د ورکړې شوې درې جوابونو نه د سبق مطابق په یو صحیح جواب د (✓) نخښه وکړئ

الف) د پښور کوم بازار مشهور دے؟

(1) خیبر بازار (2) صدر بازار
(3) قیصه خانی بازار ✓

ب) په 23اپریل کال 1930ء کښې پیرنګي فوځ په چا ګولۍ چلولې وې؟

1) په وسله بنده خلقو 2) په تش لاسو خلقو
3) په ازادۍ خوښو ✓

ج) احتجاج کونکو د حکومت خلاف څهٔ کول؟

1) احتجاج یې کولو 2) کاڼي یې ورول
3) نعرې یې وهلې ✓

د) باقي لاشونه فوځیانو چرته وړي وو؟

1) سیندته 2) نامعلومه ځاے ته ✓
3) مقبرې ته

## ......غني خان......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف) غني خان په کومو شاعرانو او ادیبانو کښې شامل دے؟

جواب: غني خان په هغه پښتنو شاعرانو، ادیبانو او پوهانو کښې شام دے چې د ادب د طالب علمانو نه علاوه یې عام اولس هم پېژني او د ده د شاعرۍ قدر کوي۔

ب) عبدالغفار خان (باچا خان) څهٔ غوښتل؟

جواب: عبدالغفار خان غوښتل چې پښتانهٔ تعلیم حاصل کړي، د دوي نه دښمنۍ او تربګنۍ لرې شي او دوي هم د دنیا د نورو قامونو په شان ترقي وکړي۔

ج) عبدالغني خان کله پیدا شوے وهٔ؟

جواب: عبدالغني خان په کال 1914 عیسوي کښې پیدا شو۔

د) د غني خان د تعلیم باره کښې معلومات بیان کړئ۔

Scanned with CamScanner

جواب: د هغوارلسو کالو په عمر کښې ېې لسم پاس کړو او د لورو زده کړو دپاره په کال 1929 عیسوي کښې لندن ته واستولے شو- په کال 1930 عیسوي کښې د کیمیکل انجینرنګ د زده کړې دپاره امریکې ته لاړو او په کال 1933 عیسوي کښې ببرته راغلو- د تخت باهي د چینو په کارخانه کښې یې څه موده د ټیکنیکل منیجر په توګه کار وکړو-

ه) د غني خان د درېو کتابونو نامې ولیکئ-

جواب: پنجرې چغار، د غني لټون، دي پټانزاېے سکیچ،

و) غني خان کله وفات شوے او چرته دفن شوے دے؟

جواب: په 15 مارچ 1996 عیسوي کښې وفات شو او د خپل کلي اتمانزو په مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شو-

سوال2: لاندینی ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ-

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| اولس | ټول اولس د غني خان قدر کوي |
| شاعري | شاعري یو الهي فن دے |
| پښتانه | پښتانه ډیر تکړه قام دے |
| پښتونخوا | زمونږ د صوبې نوم خیبر پښتونخوا دے |
| ممبر | په ممبر امام صاحب د جمعې خطبه وائي |
| ازادي | ازادي یو لوئے نعمت دے |

سوال3: "ازادي د دنیا یو لوے نعمت دے"- د ازادۍ په اهمیت یو وړوکوټے مضمون ولیکئ-

## ازادی لوئے نعمت دے

ازادی واقعي چې یو ډیر لوئے نعمت دے-کوم ملکونه یا کوم خلق چې غلامان پاتې شی-نو دهغوی ذهنونه شل او فکرونه خام وی- ځکه خو ټیپو سلطان هم وائي چې د ګیدړ د سلو کالو د ژوند نه د ازمري د یوې ورځې ژوند بهتر دے -مطلب دا چې کوم ملکونه ،کوم خلق د ازادی په خاطره ساه واخلی او یو آزاد ملک یا وطن ورته حاصل وی- نو د هغوی ذهنونه، د هغوی کاوشونه او سوچونه ټول د ترقی په لار پر مختک کوی- او مو نه یو ورځ خامی هغوي داسې کامیابی حاصله کړی-چې ټول له دنیاورته حیرانه شی-

سوال4: تاسو د پښتو د پخوانو پینځو او اوسنو پینځو او اوسنو پینځو شاعرانو نومونه ولیکئ او کوشش وکړئ چې د هغوي شعرونه هم حاصل کړئ او په کاپو کښې یې ولیکئ-

جواب: پینځه پخوانی شاعران

1) خوشحال خان خټک 2) عبدالرحمان بابا
3) عبدالحمید بابا 4) عبدالعظیم بابا
5) کاظم خان شیدا

پینځه اوسنی شاعران

1) عبدالروف زاهد 2) اکرام الله ګران
3) پشمېزار 4) سلیم راز
5) امتیاز احمد عابد

سوال5: د دې سبق نه پینځه اسم معرفه او پینځه اسم نکره راغونډ کړئ او ولې لیکئ-

اسم معرفه:

1) غني خان (2) عبدالغفار خان(باچا خان)
3) لندن (4) تخت بائي
5) د پنجرې چغار

اسم نکره

1) پښتانه (2) اولس
3) شاعران (4) پوهان
5) خاندان

سوال6: په لاندینو لفظونو اعراب ولګوئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| نامتو | نَامْتُو | تعليم | تَعْلِيمْ |
| نیاز بین | نِیَازْبِیْنْ | تهنیکل | ټِیکْنِیکَل |
| دوران | دَوْرَانْ | شعور | شَعُورْ |

## ......تور داغونه......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: شریفې له ټهکدار څو مره روپی ورکړي؟

جواب: شریفې له چې ټهکدار د هفتې پینځه د پاسه سل روپی

ب: لونګین څوک وه؟

جواب: لونګین د شریفې زوے وه-

ج: وړو مېبی د هغه څوزامن مړه وو؟

جواب: د هغه وړ مبی دوه زامن مړه وو-

د: شریفې ولې تېز تلل غوښتل؟

جواب: چې زوې له دوائی راوړ سوی-

ه: د تېزو تللو نتیجه څه شوه؟

جواب: شریفې ایکسیډنټ وکړو-

و: شریفې چرته ور سېلو او په څه حالت کښې؟

جواب: شریفې هسپتال ور سېلو او په بې هوشه حالت کښې وه-

سوال2: د دې افسانې نه تاسو څه نصیحت حاصل کړو- هله ولیکئ-

جواب: د دې افسانې نه مونږ دا سبق حاصل کړو- چې هر څه د الله تعالیٰ په اختیار کښې وی- یې وجې سوچونه او فکرونه کول نه دی پکار- او نه په یو کار کښې تادی کول پکار دی- ځکه چې هسې به هم هاغه څه کیږی- چې څه الله تعالیٰ ته منظوره وی-

## دَ پاکستان ورځ 23 مارچ......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: 23 مارچ او 14 اګست کومې ورځې دي او تاريخي حېثيت يې څۀ دے؟

جواب:په 14 اګست کال 1947ء کښې پاکستان جوړ شو او په 23 مارچ 1940ء کښې دَ پاکستان قرارداد منظور کړے شوے وۀ.

ب: دَ پاکستان دَ قرارداد څۀ مطلب دے؟

جواب:دَ 14 اګست کال 1947ء نه اګاهو پاکستان ، بهارت، او بنګله ديش ټول يو هندوستان وۀ. په دغه ناوېشلي هندوستان کښې هندوان، مسلمانان ، سکهان او عيسايان ټول شريک اوسېدل خو دَ هندوانو شمېره پکښې زياته وه او په هندوستان دانګريزانو حکومت وۀ. دَ ناوېشلي هندوستان اولس دَ انګريزانو دَ غلامۍ نه دَ خان خلاصولو دَ پاره جدوجهد کول خو مسلمانانو به دا فکر هم کولو چې کۀ چرې مونږه دَ انګريزانو دَ غلامۍ نه ازاد هم شو -خو هندوان چې په هندوستان کښې په اکثريت کښې ور نو دَجمهوري اصولو مطابق حکومت کول به دَاکثريت وي نو دَدغه سوچ مطابق په کال 1930ء کښې علامه اقبال هم دا غوښتنه کړې وه چې دَ مسلمانانو دَ پاره په هندوستان کښې يو ځان له برخه ياد زمکې ټوټه پکار ده او په 23 مارچ کال 1940ء کښې دَ مسلم ليګ په کليزه جلسه کښې دا قرارداد وړاندې کړے شو چې په هندوستان کښې دې دَ مسلمانانو دَ اکثريت په يونټونو مشتمل علاقې يو ځاے کړې شي او خود مختاره رياستونه دې ترې جوړ کړے شي.

ج: دَپاکستان قرار داد کله او کوم ځاے منظور کړے شو؟

جواب:په 23 مارچ 1940ء کښې دَ مسلم ليګ په کليزه جلسه کښې دا قرارداد او دا په لاهور کښې منظور شوے وه.

د: دَ پاکستان قرارداد چا وړاندې کړے وۀ؟

جواب:دا قرار داد دَ بنګال وزيراعظم مولوي فضل الحق وړاندې کړے.

ه) مسلمانانو دَ هندوستان تقسيم ولې غوښتو؟

جواب:کله چې مسلمانانو پته ولګېده چې په هندوستان کښې دوي سره هر ځائے ناانصافي کيږي. او دَ دې حقونه وهلې شي. او ددوی اکثريت نۀ راځي . نو دوی دَ هندوستان تقسيم غوره وګڼو.

و: دَ مسلمانانو او هندوانو ترمينځه څۀ فرق دے؟

جواب:ځکه نو مسلمانانو محسوسه کړه چې دَ هندوانو سره ددوي ګزران ګران دے.

سوال2: دالفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| ماصخوران | اي په کمال خان ماصخوران بازار ته ځم |
| شي وي | پرون به شي وي، ډېر ښکلے پروګرام وۀ |
| ډرامه | زه ولې په کتاب کښې يوه ډرامه هم شامله ده |
| تاريخ | دَ مسلمانانو تاريخ ټول دَ بهادرۍ نه ډک دے |
| قرارداد | دَ پاکستان قرارداد په لاهور کښې منظور شوے وۀ |

سوال3: اعراب ولګوئ.

| قرارداد | قَرَاْدَاْدْ | جدوجهد | جَدُوجَهْد |
|---|---|---|---|
| اکثريت | اَکْثَرِيَتْ | اقليت | اَقَلِيَتْ |
| تائيد | تَاْئِيْدْ | ...... | ...... |

سوال4: اپوته يا متضاد وليکئ.

| وارۀ | لوئے | ورځ | شپه |
|---|---|---|---|
| شريک | بوازے | غلامي | ازادي |
| تائيد | اختلاف | ...... | ...... |

سوال5: ددې الفاظو معنې وليکئ.

| اهميت | ضروري | آګاه | خيريت |
|---|---|---|---|
| قرارداد | عهد يا تجويز | اګاهو | پخوا |
| ناوېشلي | چې ټول برخې يوځائے وي | جدوجهد | کوشش |
| اکثريت | کثرت ـ ډېر | اقليت | لږ تعداد |

## ......دَ خيبر کنډاو......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: شاعر دَخيبر دَ درې دَ ښکاريدلو او په نظر راتللو منظر څۀ رنګ بيان کړے دے؟

جواب:شاعر وائي چې دا دره دَ لرې نه توره توره او سيوره سيوره ښکاري. خو درمره ارچته ده چې دَ هر چاله کوره دَ دې شوکه ښکاري -يعني دا دره دنګه ده.

ب: دَ خيبر دره کښې څۀ رنګ خلق اوسېږي؟

جواب:دَ خيبر دره کښې تکړه او توربالي خلق وېسېږي.

ج: دَ درۀ خيبر سرک چې تاؤ دے نو شاعر ته څنګه ښکاره شوے دے؟

جواب:دا شاعر ته دَ ښامار په دشان تاودناو ښکاري. او دا سې محسوسيږي چې لکه رګ خيرلے شوے وي.

د: دَ درۀ خيبر په لاره دَ چا قافلې تېرې شوي دي؟

جواب:دَدره خيبر په لار دَ آريا قبيله ، محمود غزنوی، محمد غوري، امير تيمور او دَ احمد شاه ابدالي بابا تيرے شوي دي.

ه: دلته په قبرونو دَ څۀ ونې ولاړې دي؟

جواب: دلته په قبرونو د بېروني ولاړې دي۔

سوال 2: دَ واحد جمع ولیکئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| دروازه | دروازې | قبر | قبرونه |
| سړک | سړکونه | ځلے | ځلي |
| ګټه | ګټې | بېره | بېرې |
| قافله | قافلې | ...... | ...... |

سوال 3: مصرعې مکملې کړئ:

دا چې توره توره ښکارې
دا دَ کوم قبر حازه ده
دغه لار دَ کوم کاروان ده
په قبرونو بېرې شوې

سوال 4: په لاندینو ټکو اعراب (زور، زېر، پېښ) ولګوئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| خازه | خَازه | توربالي | تُوَرَیالي |
| کهکشان | کِهکَشَان | ګټې | ګَټې |
| مېدان | مِېدَان | جنګ | جَنګ |
| سمونه | سَمُونَه | ...... | ...... |

## ......سیده بشریٰ بېګم......

سوال 1: مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: سیده بشریٰ بېګم کله او په کوم ځائے کښې پېدا شوه؟

جواب: سیده بشریٰ بېګم په کال 1922ء کښې دَ زیارت کاکا صاحب یوه علمي کورني کښې پېدا شوه۔

ب: سیده بشریٰ بېګم خپله زدکړه څنګه وکړه؟

جواب: سیده بشریٰ بېګم چې په کوم دور کښې پېدا شوې وه نو په هغه دور کښې دَ جینکو دَ تعلیم رواج نۀ وۀ او نۀ دَ جینکو دَ تعلیم رواج نۀ وۀ او نۀ دَ جینکو دَ زد کړې او تعلیم د پاره سکولونه، کالجونه او ادارې وې خو دَ دې باوجود س۔ب۔ب په خپل کور دَ خپل کور دَ خپل فاضل پلار نه زد کړه شروع کړه او څۀ نیمګړتیانې دَ میا لطاف ګل نه پوره کړه۔
دَ کور د ننه سیده بشریٰ بېګم دَ فارسي، عربي، اردو او پښتو زدکړه وکړه او بیا دَ خپل علمي کور او علمي ماحول په برکت یې دَ اسلامي تعلیماتو هم ژوره مطالعه وکړه۔

ج: سیده بشریٰ بېګم به کورنا ستوبې تعلیمه جینکو ته څۀ نوم اخستو؟

جواب: سیده پشریٰ بېګم به په کور کښې ناستو بې تعلیمه جینکو ته بې زبانه مرغۍ وئیلې۔

د: دَ سیده بشریٰ بېګم دکتاب څۀ نوم دے او کله چاپ شوے دے؟

جواب: س۔ب۔ب دَ کلام مجموعه په کال 1956 کښې دَ "زېرے" په نوم چاپ شوه

ه: سیده بشریٰ بېګم کله وفات شوه او کوم ځائے دفن کړے شوه؟

جواب: سیده بشریٰ بېګم په 16 اګست 2002 عیسوي کښې وفات شوه او په زیارت کاکا صاحب کښې خاورو ته وسپارلې شوه۔

سوال 2: خالي ځایونه کښې مناسب ټکي ولیکئ۔

سیده بشریٰ بېګم په کال 1922 کښې دَ ضلع نوښار په زیارت کاکا صاحب لومې کلي کښې پېدا شوه۔ دَ زیارت کاکا صاحب کلے دَ لوے ولي الله کسټیر ګل کاکا صاحب دَ شیخ رحمکار دَ زیارت په وجه په ټوله پښتونخوا کښې مشهور دے۔

سوال 3: صحیح او غلطې جملې بیلې بیلې کړئ۔

الف: سیده بشریٰ بېګم په ادبی دنیا کښې دَ س۔ب۔ب په نامه یادېږی۔ ✓

ب: دَ سیده بشریٰ بېګم دَ پلار نوم میا ازاد ګل کاکا خېل وۀ۔ ✓

ج: سیده بشریٰ بېګم په اعلیٰ تعلیمي ادارو کښې زد کړه وکړو۔ x

د: سیده بشریٰ بېګم دَ صحافت پېشه اختیار کړه۔ x

ه: سیده بشریٰ بېګم په کال 1956ء کښې خپل کتاب "زېرے" چاپ کړو۔ ✓

سوال 4: ددې ټکو تلفظ وکړئ او په کاپو کښې یې ولیکئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| دده | دَدَه | شهرت | شُهُرَتُ |
| ولي الله | وَلِيُّ الله | کاکاخیل | کَاکَا خِیْل |
| صحافي | صَحَافِي | مرغی | مَرُغَی |
| عظمت | عَظَمَتُ | ...... | ...... |

## ......دَ اسلام نامتو سپه سالار......

سوال 1: مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: حضرت سعد بن ابي وقاص ؓ څوک وۀ؟

جواب: حضرت سعد بن ابي وقاص ؓ یو جلیل القدر صحابي دے۔

ب: نبي کریم ﷺ حضرت سعد ؓ ته څۀ نسبت ورکولو؟

جواب: نبي کریم ﷺ وفرمائیل "دا زما ماما دے زۀ دۀ سره دومره مینه کوم چې کۀ څوک دَ دۀ مخ کتل غواړې نو ماله دې ګورې۔

ج: حضرت سعد ؓ په کوم جنګ کښې سر لښکر وۀ؟

جواب: حضرت سعد ؓ دَ قادسي په جنګ کښې سرلښکر وۀ۔

د: دا جنګ دَ کوم خلیفه په زمانه کښې شوے وۀ؟

جواب: دا جنګ دَ حضرت عمر فاروق خلیفه په زمانه کښې

Scanned with CamScanner

شوې وه۔

و: حضرت سعدؓ د چا سره وجنګېدلو۔

جواب: حضرت سعدؓ د ایرانیانو سره وجنګېدلو۔

| لفظونه | جملې |
|---|---|
| مجاهد | مجاهد تل د الله تعالیٰ له پاره جنګېږي |
| دعوت | امجد نن عارف له د ډوډۍ دعوت ورکړے دے |
| مېړنے | پښتون یو مېړنے قام دے |
| څښتن | الله تعالیٰ د ټولې دنیا څښتن دے |
| جزبه | د جهاد جذبه د مسلمان شان دے |

سوال3: د لاندې ټکو جمع جوړه کړئ

| کلے | کلي | مېرے | مېرې |
|---|---|---|---|
| غل | غلهٔ | خوشحالي | خوشحالي |
| خور | خوېندې | ...... | ...... |

سوال 4: فعل حال، فعل ماضي او د فعل مستقبل تعریفونه ولیکئ۔

فعل حال: موجوده زمانه: لکه امجد کار کوي۔

فعل ماضي: تېره شوې زمانه: لکه زهٔ پرون سکول ته تلے ووم۔

فعل مستقبل: داروانه زمانه: لکه خلان به پېښور ته ځي۔

سوال5: ستا سو کلے ډېر ښائسته دے، تاسو د خپل کلي د هر څهٔ نه واقف يئ په خپل کلي څو کرښې مضمون ولیکئ۔

## ......زمونږ کلے......

زمونږ کلے ډېر ښکلے دے۔ زمونږ کلے د ښار نه 15کلو میټره فاصله کښې نمر خاته غاړې ته پروت دے۔ زمونږ د کلي حجرې اوس هم د مشرانو نه ډکې وي۔ زمونږ په کلي کښې په هر موسم کښې خپل خپل فصل کرے کېږي۔ څو چې کله ګنړے وکړی شي ۔ نو بیا خو ډېر د خوند ماحول وي۔ ځکه چې د ګنی نه ګوړه جوړول او ګانې چلول یو بیل خوند او رنګ لري۔ زمونږ کلے پخوا دو مره ترقي یافته نهٔ وو۔ خو اوس اوس لږه موده کېږي چې زمونږ کلي ته ډېر زیات صحولیات (اسانتیا) راغلهٔ۔ لکه هسپتال، هائي سکول ، بازار، مهوې ، ګاډي او بسونه۔

نو دې ټولو اسانو سره زمونږ کلے اوس د ښار سره په سیالو کښې څنګ په څنګ روان دے۔ او چې څوک ورته راشي نو دانهٔ محسوسوي ۔ چې ګنی هغه د ښار نه لرے راغلے دے۔ او نهٔ تي ښار ته واپس زړهٔ کېږي۔ او هم دغه زمونږ د کلي ټول ښائست او خوروالے دے۔

سوال6: د کالم (الف) ټکي د کالم (ب) ټکو سره جوړه کړئ

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| جاهل القدر | همت |
| زما | تازه دم |
| هاتیان | ګاله |
| لښکر | ماما |
| اوره | صحابي |

## ......د اولس خدمت......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: د اولس د خدمت نه څهٔ مراد دے؟

جواب: د دې نه مراد د خلقو د خېر ښېګړې له پاره کار کول دي۔

ب: په خدمت او کار کښې څهٔ فرق دے؟

جواب: کار هغه وي چې مونږ يې د خان دپاره کوو او خدمت هغه وي چې مونږ يې د بل دپاره کوو۔

ج: بنیادم چې کوم کارونه کوي نو هغه په دريو برخو کښې وېشلے شي۔

جواب: په دريو برخو کښې۔

سوال2: خالي ځایونه په مناسبو ټکو ډک کړئ

الف: د یو کلي د یو ښاریې یا ملک او سیمې ټکو ته اولس وئیلے شي۔

ب: هر بنیادم ډوډۍ خوري۔

ج: هر یو کسب ګرد خپل کسب په زریعه خان ته او خپل بال بچ ته روزي پیدا کوي۔

د: ستا ملرمې ته په وخت راتلل ضروري دي۔

ه: داسې هر کار چې پکښې څهٔ دنیاوي طمع او بدل نهٔ وي د نورو خلقو د فائدې وي دې ته مونږ خدمت وایو۔

## ......حکایتونه......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: د بخیل سړي په ورکه شوې همیانۍ کښې څو مره روپۍ وې؟

جواب: د بخیل سړي په ورکه شوې همیانۍ کښې سل روپۍ وې۔

ب: قاضي د بخیل سړي د موندلي شوې همیانۍ څهٔ فیصله وکړه؟

جواب: قاضي بخیل سړي ته وئیل۔ چې دا ستا همیانۍ نهٔ ده۔ ځکه چې دې کښې یو سل اولس اشرفۍ دي۔ لحاظه تهٔ څه خپله همیاڼه بل ځائے ګوره۔او دا همیانۍ د دې سړي انعام شو۔

ج: د عربو د ښهٔ سړي خبرې څنګه د خلقو په خېر تمامې شوې؟

جواب: یوه شپه نه د بل طرف نه یوې لښکر وروخوت کوم چاپېره کلي یې تتول و مستول مال یې ورته لوټ کړو چې د دغه خلقو کلي ته نژدې شو، د لښکر خلقو به خپلو کښې سره وویل چې نه رڼا شته او نه د سپو غپاشته او نه د چرګانو بانګونه شته معلومېږي چې خلق نشته تش کلے او خالي کوروته به څه کړو؟ په دې ګمان لښکر بېرته لاړو ـ کلي ته خبر شو ـ خلقو ته ثابته شوه چې د هغه ښځه سرې خبره رښتیا وه.

د: حاتم طائي څوک وو او په څه مشهور وو؟

جواب: حاتم طائي د خپل سخاوت په وجه مشهور دے.

سوال2: د واحد جمع او د جمع واحد ولیکئ:

| لرګے | لرګی | سړے | سړي |
|---|---|---|---|
| مېلمه | مېلمانهٔ | خبره | خبرې |
| دوست | دوستان | مور | میندې |

سوال3: لاندې ورکړې شوې درې جوابونو نه په یو صحیح جواب د (✓) نخښه وکړئ.

الف: د بخیل سړي په همسایې کښې څوا شرافي دي؟

1) سل ✓ 2) دوه سوه 3) درې سوه

ب: ښځه سړے په کوم ځاے کښې اوسېده؟

1) پاکستان 2) چین 3) چین ✓

ج: حاتم طائي څو مره اوښان حلال کړي وو؟

1) شل 2) دېرش 3) شلوېښت ✓

د: حاتم طائي چا له دعوت کړے وو؟

1) فقیرانوله 2) ملنګانوله 3) امیرانوله ✓

......سائیکله وفاداره......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: سائیکل نه بې دَلسو کالو یار ولې وئیلے دے؟

جواب: ځکه چې دَ هغهٔ سائیکل تولې پرزې خرابې دي۔ او حالت ئې ډېر ښهٔ نه دے۔ لکه چې زوړ وي۔ اولس کاله ئې شوے دي۔

ب: دَ شاعر سائیکل څنګه وو او څهٔ څهٔ پکښې نه وو؟

جواب: دَ شاعر سائیکل ډېر زوړ وو ـ نهٔ پکښې ټلي، نهٔ لیمپ، نهٔ پمپ، نهٔ بریکونه او نهٔ پېچونه وو۔

ج: کله چې سائیکل خفه شي نو بیا څهٔ کوي؟

جواب: نو بیا تله دَ شلانتې په شان دَ سړک مینځ کښې پرېوځي۔

د: دَ شاعر سائیکل زوړ وو که ځوان وو؟

جواب: دَ شاعر سائیکل زوړ وو۔

سوال2: خالي ځایونه ډک کړئ.

دَ یار نه وفادار بې سترې مهٔ شي خپله یاره یو څو ډنډې وجود دې وي روان به لوبه لاره ټلی شته نه دې لیمپ شته نه دې پمپ نه دې بریکونه چې روان نه شي یو ځل او په سړک شي نه روان خفه چې شي د شلانتې په شان پرېوځي په سړک

سوال3: دا لاندې ټکي په خپلو جملو کښې راولئ۔

| الفاظ | جملې |
|---|---|
| اس | عرفان په سور اس روان دے |
| جهاز | جهاز په هوا کښې الوزي |
| موټر | دَ موټر څلور پائي دي |
| ټلی | زما دَ سائیکل ټلی خراب ده |
| لیمپ | په تیاره کښې خلق لیمپ بلوي |
| بریکونه | دَ سائیکل بریکونه همیشه ټیټ ساتل پکار دي |

سوال4: دَ لاندینو ټکو اپوټه (متضاد) ولیکئ۔

| ستائیل | غندل | وفادار | بې وفا |
|---|---|---|---|
| یار | رقیب | زوړ | نوي |
| وران | سم | ...... | ...... |

سوال5: دَ اسم تعریف وکړئ او په دې نظم کښې ښنځهٔ اسمونه ولټوئ او ئې لیکئ۔

جواب: اسم: دَ څهٔ څیز، ځائے او دَ سړي نوم ته اسم وئیلے شي لکه په دې سبق کښې۔

یار۔ سائیکل۔ بریک۔ پمپ۔ لیمپ۔ ټلی۔ پېچونه وغیره۔

......درې وروڼه درې پوهان......

سوال1: زباني ووایئ؟

الف: درې واړه وروڼه څنګه وو؟

جواب: درې واړه وروڼه ډېر هښیار او عقل مند وو۔

ب: په لاره چې روان وو نو مشرې ورور څهٔ ووې؟

جواب: مشري ووې چې په دې لاره څو یو اوښ تېر شوے دے۔

ج: درې وارو وروڼو چې سړي ته دَ اوښ نخښې نښانې وښودې نو سړي ورته څهٔ ووې؟

جواب: هغه سړي ورته ووې چې هم دغسې ده دَ هغهٔ یقین ته دا خبره پرېوته چې ګني دَ هغهٔ دغه اوښ دغو سړو پټ کړے دے۔ هغه سمدستي دوي ته نېغ شهٔ او ورته یې وونیل چې شابه کړئ زما اوښ وښایئ ګني لاړ شه سرمو بانیلو۔

د: باچا په درې وارو وروڼو څهٔ امتحان وکړو او دوي څهٔ جوابونه ورکړل؟

جواب: باچا یو سړے راو غوښتلو او په غوږ کښې یې ورته ووئیل هغه لاړو څهٔ شپه پس دو وتنو بوه خوا

نجه راوړه او په داسې ځاے یې کېښوده چې باچا لیدله۔ په دغه خوانچه کښې یو ډبے اوروت وه باچا هغو درې وارو ته مخ وروارلو او ورته یې ووئیل چې وایئ په دغه ډبي کښې څه دي؟

په هغوئ کښې مشرورور ووئیل چې په دې ډبي کښې یو څیز دے چې غونډ موند دے۔ دویم ورور یې ووې چې دغه څیز انار دے ۔ دریم یې غږ وکړو چې دغه انار لا پوخ هم نه دے۔ باچا چې دا واورېدل نو دَ اوبښ مالک ته یې ووې چې ته څه ورځه۔ دا سړي غلهٔ نه شي کېدے بیا یې هغوئ خوا ته راوبلل او ورته یې ووئیل ځ اوس مې په دې پوه کړئ چې تاسو څهٔ رنګ په دې پوه شوئ چې په دې ډبي کښې انار دے او هغه انار لا پوخ هم نه دے۔

ه: باچا چې دَ دوي پوهه ولیده نو څهٔ یې ورسره وکړل؟

جواب: باچا چې دَ دوي دَ پوهې دا نا اشنا تماشه ولیده نو ډېر ترې خوشحاله شهٔ اوښې ډېرې پېسې یې ورله ورکړې۔ درې وارو رونه په خپله مخه لاړل۔

سوال2: اسم ظرف هغه اسم ته وائي چې ترې څهٔ ځاے یا وخت مرادوي؟

لکه: هسپتال، مدرسه، جومات، ګهنټه، منټ، کال، میاشت

جواب: دَ ظرف اسم: کالج ۔ حجره ۔ دکان ۔ کوټه ۔ وغیره

سوال3: دَمذکر مؤنث او دَمؤنث مذکر ولیکئ۔

| ورونه | خوئېندې | باچا | ملکه |
|---|---|---|---|
| اوبښ | اوښه | سړے | ښځه |
| ماشوم | ماشومه | غل | غله |
| ړوند | ړنده | ...... | ...... |

سوال4: دَلاندېنو الفاظو معنې ولیکئ او په جملو کښې یې استعمال کړئ۔

| لفظونه | معنی | جملې |
|---|---|---|
| ورکه | چې معلوم نهٔ | هلکه په ورکه پسې مهٔ ګرځه وی |
| سترګه | دَ لیدلو اعضا | په سترګه بنیادم لیدل کوی۔ |
| رښتیا | چې دروغ نهٔ وی | تل رښتیا وئیل پکار دی وی |
| نخښې لښانې | پته پوته | ورې وارو د اوبښ نخښې لښانې ورکړی |
| غونډمونډ | دَبال پشان | انار بالکل غونډ موندوی ګول |

سوال 5: دَلاندېنې کالم (الف) لفظونه دکالم (ب) سره جوړه کړئ او نوې ټکي ترېنه جوړ کړئ

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| دوي | غوږې |
| نخښې | ورور |
| دروغ | انار |
| غونډ موند | ورونه |
| مشرے | لښانې |

...... هر غلوئ /اړونه......

سوال1: لاندېنې جملې پوره کړئ۔

الف: یوبل په خرابو لو مولو مهٔ یادوئ

ب: ښهٔ کتاب لیکه لاربنایي۔

ج: پوهه رنا ده۔

د: پلار یې لاپیدا نهٔ ے زوئے یې په کوټه ګرځي۔

ه: دَ غُلې نه یې ځي وېښې خبرې کړې دَ مینې

......چترال......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: دَ چترال رقبه څومره ده؟

جواب: دَ چترال رقبه څلورزره اتهٔ سوه پنځوس مربع کلومیټره ده۔

ب: دَ چترال حدو اربعه معلومه کړئ۔

جواب: دَ چترال نه دَ قطب په لور دَ هندوکش غرنیزه سلسله ده چې پکښې دَ ټولو نه اوچته څوکه په ترچ میر بللې شي چې دَ چترال خلق ورته دَ ښاپېرو ومحل هم وائي دَ دې اوچتوالے 25289 فټه دے۔ دَ رقبې په لحاظ چترال دَ خیبر پښتونخوا تر ټولو لویه ضلع ده۔ دَ دې ضلعې نه قطب او نمر پرېواتهٔ اړخ ته افغانستان ، قطب ته یې دَ واخان پټئ ه۔ دا پټئ دَ پاکستان او مینځنی ایشیا تر منځه یو بریدے۔ نمر خاتهٔ ته یې ګلګت او سوات ته یې دَ بره دیر سره پوله ده۔

ج: دَ چترال پېدا وار بیان کړئ

جواب: په چترال کښې ګنې مېوې لکه مېوان، خرمانی، غوزان، انګور وغیره پېدا کېږی۔

د: دَ چترال خلق په کومه لوبه مئین دي؟

جواب: دَچترال خلق په چوګان یا پولو لو به ډېر مئین دي۔

ه: دَ چترال کوم څیزونه مشهور دي؟

جواب: دَ چترال په لاسونو جوړو شوو څیزونو کښې چترالی جوټې، پکولونه او دَ وړی کپړه ډېر مشهور دي۔

سوال2: په لاندېنو ټکو اعراب ولګوئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| کلکت | کِلکِت | هنزه | هُنَزَه |
| لواری | لوَاری | دروش | دَروش |

| | | | |
|---|---|---|---|
| کرکیله | کرکیله | جوګان | جوګان |
| مېچوڼه | مېچوڼه | | |

سوال3: لاندې لفظونه خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

| لفظونه | جملې |
|---|---|
| اصل نسل | د هر سړي پته د اصل نسل نه لګي. |
| ننګ رانګ | هر چا سره غم ښادي او ننګ رانګ پکار وي |
| سیند | دَ نوښار سیند ډېر خولږي دے |
| پکولونه | دَ چترال پکولونه ډېر مشهور دي |
| ګډا | دَ چترال خلق په ګډا ډېر مئین دي |
| سنګرې | دَ پښتو سندرې ډېرې خوږې وي |

سوال4: تاسو په دې سبق کښې ښځنه اسم معرفه او ښځنه اسم نکره ولټوئ او په خپلو کاپو کښې یې ولیکئ.

اسم معرفه: چترالی چوغې ـ چترال ـ جوګان ـ ګلګت کهوار
اسم نکره: سیند، فصل، نسل، ښار، سړک

## ......ګلا، بلا، او امزلا......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: دَ بوډا زمیدار دَ درې زامنو څهٔ نومونه وو؟

جواب: ګُلا، بُلا او امزلا

ب: دغه درې وارو څهٔ کردار لرلو؟

جواب: درې واړه دَ یو بل سره بې اتفاقه وو.

ج: پلار یې چې دَ مرګ په تبه پرېوتو نو زامنو ته یې څهٔ ووې؟

جواب: ورته ني وې لاړشئ او دَ ځنګل ډنډې راوړئ.

د: هغوې ډنډې ولې ماتې نهٔ کړې شوې؟

جواب: ځکه چې کله هغه یو ځای وتړلې شوې. نو مضبوطې شوې. مثال ني دَ غټ تیر شو یا دَ غټ لرګی.

ه: کله چې ډنډې ولې ماتې نهٔ کړې شوې؟

جواب: پلار تې ورته اووې چې وګورئ چې څنګه دا ډنډې خان خان له ماتې شوې او کمزورې شوې. نو دغه شان چې تاسو هم خان خان له یې، نوکمزورې په یې. اوکهٔ یو ځائے شوئ، نو مضبوط به شئ.

سوال2: دَ دې ټول نظم نه مونږ ته څهٔ نصیحت حاصلېږي؟

جواب: دَ دې نظم نه مونږ ته دا سبق حاصلېږي. چې په اتفاق سره وسهلو کښې برکت وي.

سوال3: دا ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

| لفظونه | جملې |
|---|---|
| ننګ | ننګ او ناموس دَ پښتون شان دے |
| نااهله | نالائقه هلک همېشه دَ امتحان له پاره نااهله وي |
| عمر خوړلے | دَ هلکانو پلار عمر خوړلے وهٔ |

| | |
|---|---|
| لهجه | د ملتان لهجه د اوچکو وک دی |
| اتفاق | په اتفاق کښې برکت وي |
| | |

سوال4: دا اتفاق په سر خط یو مضمون ولیکئ چې لس جملې وي.

## په اتفاق کښې برکت وي

دیو سړی کنړ زامن وو. خو خپلو کښې ئې اتفاق نهٔ وو او هر وخت به په جنګ وو. پلار سره ئې دا غم وو که زهٔ چېکله پورته شوم نو دوئ به په یو بل لوټې وکړي. اؤ دوئ به ټول عمر پخپلو کښې په جنګ اخته وي. یوه ورخ ئې ټول زامن راغونډ کړل اؤ د لرګو یو ګېډۍ ئې ورته کېښوده. هغوئ ته ئې اووې چې تاسو کښې کوم یو ډېر طاقتور وي. نو دا ګېډۍ دې ګوندې ماته کړي. ټولو یو یو خپله وسه اوکړه. خو ګېډۍ ئې مات نهٔ کړې شو. بیا ئې دهغه ګېډۍ یو یو لرګې هر یو له ورکړو. چې دا مات کړئ. هغوی ډېر په آسانه یو یو لرګې مات کړے لو. پلار ئې ورته ووې چې دَ اتفاق مثال دَ دې ګېډۍ دے. کله چې دا لرګی غونډ وو. یو ګېډۍ وو. نو ماتول ئې ممکن نهٔ وو. خو چې یو یو لرګې شو. نو په آسانه مات شول. دغه شان که تاسو هم په اتفاق وسېږي نو څوک به درته هم په بدنظر نهٔ شې کتې. اؤکهٔ چرې بې اتفاقه رج نو تباه و برباد به شئ. ځکه چې په اتفاق کښې برکت وي.

## ......سید عبدالستار شاه......

## (باچاجان)

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ

الف: سید عبدالستار شاه باچا چرته پیدا شوے وهٔ؟

جواب: سید عبدالستار شاه باچا دَ هزارې بټګرام ضلعې دَ میرانو نو مې کلې دَ سیدانو په یوه غزتمنده کورنۍ کښې په کال 1878ء کښې پیدا شو.

ب: دَپښتو کم نامتو شاعر دَ دوې مرید وهٔ؟

جواب: دَ پښتو نامتو شاعر امیر حمزه خان شنواری دَ دوې مرید وهٔ.

ج: باچا جان دَ ژوند زیاته برخه چرته تېره کړې وه؟

جواب: دوې به دَ پېښور ښار دَ ډبګرۍ بازار په یوه بالا خانه کښې اوسېدل او خلقو ته به یې روحاني فیض رسولو. دوې به په ډبګرۍ کښې دَ حضرت خواجه معین الدین چشتي دَ اجمیر شریف کلیز عرس په باقاعدګۍ سرا کولو په دغه موقع به دَ ډبګرۍ په بازار کښې دَ خاص چراغان او قوالۍ بندوبست هم کولے شو.

د: دَ باچا جان مزار چرته دے؟

جواب: دَ باچا جان مزار دَ ډبګرۍ دروازې نه بهرهدیره کښې

دي۔

ه: دَ باچا جان دَ خدماتو مختصره جائزه واخلئ۔

جواب: حضرت سید عبدالستار شاه چې په باچا جان مشهور دے۔ دَ ښه کردار او ژوندي جذبې په وجه يې ابدي ژوند حاصل کړے دے دوي ښه ټول ژوند دَ خدائے دَ مخلوق دَ خدمت دپاره موقف کړے وُه۔ دَ خلقو روحاني تربیت به يې کولو او دَ سلوک او معرفت له لارې يې خلق ښورول۔ دَ دې نه علاوه دَ پاکستان دَ جوړولو په جدوجهد او بيا دَ پاکستان دَ جوړېدو نه پس دَ هندوستان نه دَ تش لاس راغلو مهاجرينو دَ امداد کولو په لړ کښې به دَ سيد عبدالستار شاه باچا کوششونه تل ياد ساتلے او ستائيلے شي۔

سوال2: دَ لاندېنو الفاظو معني وليکئ:

| ابدي ژوند | تل تر تله ژوند | سلوک | روبه |
|---|---|---|---|
| معرفت | پېژندګلو۔ذريعه دَ الله تعالیٰ پېژندنه | روحاني شخصيت | دَ روح سره تعلق رونکے بنيادم |
| عرس | کالينده فاتحه | صوفي | متقي |
| مشاعره | دَ شاعرانو را جمع کېدل او شعرونه وئيل | عقيدت مند | مينه لرونکی |

سوال3: دا ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:

| لفظونه | جملې |
|---|---|
| زيارت | دکاکا صاحب زيارت ډېر ښکلے دے |
| روايت | دَ پښتنو قام خان له روايت وله دي |
| سخاوت | دَ اکرم سخاوت ډېر زيات دے |
| مهاجرين | مهاجرين هميشه دَ بل وطن نه راځي |
| تحريک | دَ پاکستان جوړولو تحريک يو اعلیٰ کارنامه ده |
| تعريف | دَ الله تعالیٰ تعريف دَ دنيا هر څه څيز کوي |

سوال4: "خدمت" اور "تربيت" يو شان او ازونه لري، دې ته هم اوازه لفظونه وايي۔ تاسو دې سبق کښې داسې نور پينځه هم اوازه لفظونه ولټوئ او په کاپو کښې يې وليکئ۔

جواب: هم اواز لفظونه

معرفت۔تربيت۔خدمت۔ تريقت۔ بهحت

## ......نتيا ګلي......

سوال1: مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: نتيا ګلي په کومه ضلع کښې ده؟

جواب: نتياګلي دَ ايبټ آباد په ضلع کښې ده۔

ب: نتيا ګلي دَ سمندر د سطحې نه څومره اوچتوالے لري ؟

جواب: نتياګلي دَ سمندر دَ سطحې نه 2500 ميټره 8200 فټه اوچتوالے لري۔

ج: دَ نتيا ګلي په وراو کښې دَ مشهورو ونو نومونه وليکئ۔

جواب: چير، دیار او د ځوزانو ونې په زيات شمېر کښې دي۔

د: دلته کوم ښاور په زيات شمېر کښې موجود دي؟

جواب: بيزوګان

ه: دَ نتياګلي خلق دَ کومې قبيلې سره تعلق لري؟

جواب: دنتياګلي خلق دَ کړلان قبيلې سره تعلق لري

و: دَ انګريزانو دَ دور دَ کرجې څه اهميت دے؟

جواب: دلته انګريزانو په خپل دور کښې ځينې عمارتونه جوړ کړي دي چې لا ترننه موجود دي په دغو عمارتونو کښې يو ه په مکمله توګه دَ لرګونه جوړ ګرجا (دَ عيسايانو عبادت خانه) ده۔ دَ دغې ګرجې دَ ساله لورې کشمير په نظر راځي او يوه ښکلې ننداره وړاندې کوي۔

سوال2: لاندېني ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ۔

| لفظونه | جملې |
|---|---|
| سکون | ژوند تل په سکون مزه کوي |
| ښائست | نتيا ګلي له خدائے پاک قدرتي ښائست ورکړے دے |
| ښکلا | دَ پېښور ښار خپله ښکلا ده |
| آب و هوا | دَ ايبټ آباد آب و هوا دَ صحت دپاره مفيده ده |
| نظاره | دَ غر دَ سر نه دَ ټول ښار نظاره کيدې شي |
| بيزوګان | په نتيا ګلي کښې بيزوګان ډېر دي |
| ګرجا | عيسايان خپل عبادت په ګرجا کښې کوي |
| راشه درشه | په راشته درشه مينه سيوا کيږي |
| ګډون | زهٔ به صبا په اجلاس کښې ګډون کوم |

سوال3: دَ "بې اندازې" معنیٰ ده "هغه چې څه اندازه يې نهٔ وي" دغه شان دَ "بې شماره" معنیٰ دا ده چې "هغه چې شماره يې نهٔ وی" "بې " دَ اندازې او شمار دپاره سابقه ده۔ تاسو دغه شان نور پينځهٔ لفظونو وليکئ چې په سر کښې يې دَ "بې" سابقه راځي۔

جواب: سابقه

1) بې بها 2) بې دليله 3) بې کرته
4) بې مخې 5) بې موقعې۔

سوال5: خالي ځايونه ډک کړئ:

الف: نتيا ګلي يو ښائسته او صحت افزا مقام دے۔
ب: په نتيا ګلي کښې دَ چير، ديار او ځوزانو ونې وی۔
ج: نتياګلي ته خلق په اوړې کښې سيل له راځي۔
د: دلته خلق سيمينارونه، اجلاسونه او ورکشاپونه کوي۔

Scanned with CamScanner